# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|

حبیب الله رفیع
۳۰ سپتمبر ۲۰۱۵

بسم الله الرحمن الرحیم
كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ

## د خورشید عطایي لنډ ژوند لیک

محترمه مېرمن خورشید عطایي د ارواښاد احمدخان اسحاقزي لور وه چي په ۱۳۴۷ لمریز کال زیږېدلي وه، د دې پلرنی ټاټوبی د کابل ولایتي کلی دی.

خورشید خپلي دیني، ادبي او اولسي زده کړې د خپل کاله له مشرانو څخه کړې وې، وروسته د استعداد او لیاقت له مخي د بیني حصار په ښوونځي کي ښوونکي وټاکل شوه خو ورسره یې د شپې په لیسه کي خپل منځني تعلیمات په پوره مینه او زیار سره پای ته ورسول او عالي تحصیلات یې د ماسترۍ د ډیپلوم په اخیستلو سره له هېواده بهر په پخواني شوروي اتحاد کي سر ته ورسول، هېواد ته له بېرته راستنېدو سره د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د تحقیق او څېړني مدیره شوه، دې په شوروي اتحاد کي زده کړې کړې وې خو افغانه او مسلمانه بېرته راستنه شوې وه، نو کله چي په ۱۳۵۷کال په هېواد کي کمونیستي کودتا وشوه، دې له دې رژیم سره د کرکي له امله په ۱۹۸۰کال کي له خپلو دوو لونو ثریا او ربیلا سره پاکستان ته هجرت وکړ، بیا هند ته لاړه او په پای کي یې په کاناډا کي پناه واخیسته چي ډېر وخت د مهاجرینو په خدمت کي په رسمي دنده بوخته وه .

مېرمن عطایي لیکواله، شاعره، تکړه نطاقه او متواضعه، درنه مېرمن وه، په پښتو – دري – انګلیسي او روسي ژبو پوهېده.

پوره نیمه پېړۍ کېږي چي زه خور "خورشید" پېژنم، پېژندګلوي مو هم د شعر په مهینه، رنګینه، وریښمینه او ګلورینه لاره شوې او دې سپېڅلي واټ کي مو سره پېژندلي دي.

همغه پنځوس کاله وړاندې دواړو شاعري پیل کړې وه او د "کلي" په اخبار او "د کلیو غږ" په راډیويي خپرونه کي به مو اولس ته رسوله.

د عطایي صاحب شاعري روانه او طبیعي وه، په دواړو هېوادنیو ژبو پښتو او دري یې شاعري کوله او دا ادبي سفر یې همداسي روان ؤ او تر ننه یې دا ادبي لاره پاللـه او شعري طبعه یې همداسي ځپانده او ځلانده وه. دې له هېواد سره مینه لرله، له ملت سره یې مینه لرله او د خپل هېواد له ښکلاوو او رنګینیو سره یې مینه لرله او دا تول یې په خپل شعر کي ځایول او د خپل شعر په پسته او وریښمینه غېږه کي یې رانغښتل .

کله چې په ۱۳۵۷کال په افغانستان کې د غوايي د خونړي غوبل له لارې سره ښکېلاک ځاله وکړه دې هم له مجبوريته خپل هېواد او خپله ځاله پرېښوده، د ملکونو سرگردانه شوه او دا د هېواد په ښکلا مينه شاعره چې د هېواد ترانې به يې ويلې د هېواد د بېلتون په ساندو واوښته او شعرونو يې بل کيف او رنګ وموند.

په هر حال خورشيد خور په خوښۍ او غم دواړو حالتونو کې خپله ادبي لاره وپالله او وخت پر وخت يې ادبي پنځونې وکړې، پښتو او دري شعرونه يې وويل او د ملي نفرت او ملي وحشت په دې ناوړه مرحله کې يې د ملي وحدت خپل غږ لوړ او لوړ وساته او خپل هېوادوال يې يو والي او د هېواد د ودانۍ په لور راوبلل.

اولس ته تر اوسه د خورشيد عطايي دا لاندې شعري مجموعې وړاندې شوې دي:

۱ .دود دل په ۱۳۴۷کال په کابل کې خپره شوې ده.

۲ .بيا "دود دل او د نکريزو پاڼه" يو ځای په ۱۳۷۸کال په پېښور کې چاپ شوې او په پېښور او کاناډا کې خلکو ته رسېدلې ده.

۳ .درېمه مجموعه يې "د خورشيد وړانگې" په نامه په ۱۳۸۱کال خپره شوه.

۴ .څلورمه شعري مجموعه يې څو مياشتې وړاندې چاپ ته تياره کړه.

خورشيد خور په خپل ژوند کې د خپل هېواد او هېوادوالو د خدمتونو هڅې وکړې او د ګڼو اجتماعي، فرهنگي او ادبي خدمتونو په پای کې ناروغه شوه، مرگ حق دی او د ۱۳۹۴لمريز کال د سرطان په شپږمه نېټه يې د سرطان د ناروغۍ له امله خپله سا خپل خدای ته تسليم کړه او په خپلو خدمتونو يې خپل ژوند ابدي کړ!

اروا يې ښاده اوسه

انا لله و انا اليه راجعون